Office of the Deputy PM for Economic Affairs
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستـــان اقتصـادي پــرمختګ

# خبرپاڼه

دریيم کال - ۲٦مه ګڼه | پرله‌پسې ۸۸مه ګڼه
نېټه: ۱۴۰۵/۰۷/۳۰



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختـــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

## په دې ګڼه کې لولئ:

١- د توکو د نرخونو او کیفیت کنټرول د بازار د تنظیم او کورني تولید د ملاتړ لپاره مهم دی

٢- د کندهار د انارو د صادراتو پراختیا




# د توکو د نرخونو او کیفیت کنټرول د بازار د تنظیم او کورني تولید د ملاتړ لپاره مهم دی

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډه، د ۱۴۰۵ کال د میزان میاشتې په ۲۸مه نېټه، په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شوه. په دې غونډه کې په هېواد کې د توکو د نرخونو او کیفیت پرکنټرول او د بازار د تنظیم په موخه د اړوندو ادارو د فعالیتونو پرپیاوړتیا مفصل بحث وشو. د موضوع له هراړخیزې ارزونې وروسته پرېکړه وشوه، چې په ولایتونو او ولسوالیو کې دې د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ د مستهلکینو جوړې شوې کمېټې د یاد وزارت له لوري د چمتو شوي لارښود له مخې د توکو د نرخونو د کنټرول په برخه کې خپل مسوولیتونه په جدي ډول ترسره کړي. همدارنګه، په کابل ښارکې دې د کابل ښاروالۍ په مشرۍ جوړه شوې کمېټه خپل فعالیتونه پیاوړي کړي او د ترسره شویو اقداماتو راپورونه دې په منظم ډول د تعرفې کمېټې ته وړاندې کړي. د توکو د نرخونو څارنه د بازار د تنظیم، د مستهلکینو د حقونو د خوندیتوب او د بیو د غیر مؤجه لوړېدا د مخنیوي لپاره مهمه ده. د اړوندو کمېټو منظم فعالیتونه د بازار وضعیت په څارنه کې مرسته کوي، د نرخونو په اړه د خلکو شکایتونو ته د رسېدنې زمینه برابروي او د سوداګریزو فعالیتونو لپاره د لا منظم چاپېریال په رامنځته کېدو کې مرسته کوي. د اقتصادي کمېسیون په دې غونډه کې د توکو د کیفیت د کنټرول په برخه کې هم پرېکړه وشوه، چې د هېواد په سوداګریزو بندرونو کې دې د عامې روغتیا وزارت د خوړو او درملو معینیت او د وارداتي توکو د کیفیت د کنټرول په برخه کې دې د معیار او کیفیت اداره خپل فعالیتونه لا پیاوړي کړي. همدارنګه، پرېکړه وشوه چې تعرفې دې پر هغو وارداتي توکو زیاتې شي، چې په هېواد کې یې ورته کورني تولیدات موجود وي، خو د تعرفو د زیاتوالي لپاره باید د کورنیو تولیداتو د کافي کمیت تر څنګ د هغوی کیفیت هم پر منل شوو معیارونو برابر وي. د دې پرېکړې اقتصادي اهمیت په دې کې دی، چې د بازار د تنظیم تر څنګ د کورنیو تولیداتو د ودې او د تولیدي بنسټونو د ملاتړ زمینه برابروي. په ورته وخت کې، د کیفیت او کمیت ارزونه د دې لپاره مهمه ده چې د تعرفو په پالیسۍ کې د کورنیو تولیداتو د ملاتړ او د بازار د اړتیاوو ترمنځ توازن وساتل شي.



## د کندهار د انارو د صادراتو پراختیا

یوه روسي سوداګر ویلي چې غواړي د کندهار ولایت تر پنځه زره ټنو پورې انار د ځمکنۍ لارې له لارې روسیې، قزاقستان، ازبیکستان، جاپان او سویلي کوریا ته صادر کړي. هغه ویلي، د کندهار انار د ځانګړي خوند او لوړ کیفیت له امله په نړیوالو بازارونو کې د پام وړ غوښتونکي لري. دغه روسي سوداګر د لومړي ځل لپاره کندهار ته تللی او د دغه ولایت د انارو کیفیت یې ستایلی دی. د نوموړي په وینا، د کندهار انار لوړ کیفیت لري او د ځمکنۍ لارې له لارې یې د سیمې او اسیا نورو بازارونو ته د صادرولو ښه فرصت شته. کندهار د انارو د تولید له مهمو سیمو څخه دی او د دې محصول د صادراتو پراختیا کولای شي د بڼوالو، سوداګرو، بسته‌بندۍ د فعالانو او د ترانسپورټ په برخه کې د کارکوونکو لپاره اقتصادي فرصتونه رامنځته کړي. همدارنګه، بهرنیو بازارونو ته د انارو د لېږد زیاتوالی د کرنیزو محصولاتو د صادراتو، د سوداګریزو اړیکو د پراختیا او د هېواد د صادراتي عوایدو د زیاتوالي لپاره زمینه برابروي. د افغانستان اسلامي امارت د هېواد د بڼوالو او سوداګرو د ملاتړ او د کرنیزو محصولاتو د صادراتو د پراختیا په موخه د اسانتیاوو برابرولو او بهرنیو بازارونو ته د لاسرسي د پراخولو هڅې کوي. له ګاونډیو او د سیمې له هېوادونو سره یې سوداګریزې اړیکې پراخه کړي، ځکه نړیوالو بازارونو ته د افغاني مېوو صادرات د عوایدو او هېوادوالو د اقتصادي وضعیت په ښه والي کې مرسته کوي.